مجله علمی تحقیقی دعوت
سال پنجم، بهار و تابستان ۱۴۰۳هـ ش
شماره مسلسل ۱۰
REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22
ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23

**پوهاند دکتر محمد مصطفی نیازی**
د ننگرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي
د خصوصي حقوقو د ديپارتمنت
د علمي کادر غړی او د دعوت پوهنتون
د ماستری برنامې
د فقه او قانون قراردادی استاد
mustafajanmohd@yahoo.com

**پوهنمل محمد سلیم کریمزی**
د سید جمال الدين افغاني پوهنتون
د شرعياتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې
د علمي کادر غړی

دریافت مقاله: ۱۴۰۳/۰۳/۱۳
پذیرش مقاله: ۱۴۰۳/۰٦/۰۳

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

# مصنوعي القاح او د هغې فقهي حکم

## نچوړ

دا څېړنيزه علمي مقاله چې د مصنوعي القاح او د هغې تاريخي سير، ډولونه او فقهي حکم، تر عنوان لاندې د کتابتوني، توصيفي مېتود پر مټ د هغه عمليې د حکم د روښانه کولو په موخه تر سره شوې ده چې له طبيعي طريقې پرته د وسائلو په وسيله د نارينه سپرم د مېرمنې د هګۍ يا بويضې سره يو ځای کوي او بيا له هغې څخه ماشوم پيدا کېږي. چې دا عمليه د طب په ډګر کې د مصنوعي القاح په نوم سره يادېږي. چې دا څېړنه په اوسني وخت کې د خورا زيات ارزښت او اهميت درلودونکې ده؛ ځکه چې د نړۍ په بېلا بېلو روغتونونو کې دا ډول عمليات تر سره کېږي، او اړمن خلک يې بې له دې چې د شرعي حکم په اړوند يې فکر وکړي، تر سره کوي؛ ځکه چې په دې اړوند د اسلامي فقهې په پخوانيو متونو کې څه نه تر سترګو کېږي، د څېړنې په پای کې دې پايلې ته رسېدلي يو چې مصنوعي القاح ټولې هغه لارې چې په هغې کې د نسب د اختلاط لاملونه رامېنځ ته کېږي ناروا دي او هغه چې په هغې د نسب د اختلاط ستونزه نه وي، د ناموس د خطر سره نه مخ کېږي او شرعي احکام په کې نه ماتېږي، نو د القاح له دغه لارې څخه په هغه شروطو ګټه اخيستل جائز دي چې فقهاوو ورته ايښودلي دي.

**کليدي ټکي:** مصنوعي القاح، داخلي تلقيح، خارجي تلقيح.

**Abstract**

This scholarly paper, titled Artificial Insemination and Its Historical Development, Types, and Jurisprudential Ruling, utilizes a comprehensive library-based descriptive method to elucidate the jurisprudential ruling of artificial insemination. This procedure involves the non-natural unification of male sperm with a female ovum, facilitating conception through artificial means. Known in the medical field as artificial insemination, this practice has become increasingly significant as it is widely performed in hospitals around the world. However, many people engage in this procedure without a full understanding of its religious implications, as traditional Islamic jurisprudential texts do not directly address this modern medical development.

The findings of this study indicate that any form of artificial insemination that risks lineage confusion is impermissible. However, if lineage integrity is preserved, the family's honor remains safeguarded, and religious guidelines are fully observed, artificial insemination may be permissible under specific conditions set forth by Islamic jurists.

**Keywords**: Artificial insemination, internal insemination, external insemination.

Dawat
Academic
Journal

Fifth Year, Issue 1
(Spring & Summar 2024)

Volume 10

Received: 2024-6-2
Accepted: 2024-8-24

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سريزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، محمد وعلى آله وأصحابه ومن دعا بدعوته واهتدى بهداه، أما بعد:

اسلامي شريعت چې د ژوند هر اړخيز نظام دی، د انساني ژوند ټولو اړخونو ته شامل او احکام يې د نزول راهيسې تر قيامته پورې د هر ځای او هر وخت لپاره صلاحيت او وړتيا لري چې د انساني ژوند ټولو ستونزو ته ځواب ويلای شي، د انساني ژوند ټولو دردنو لپاره دوا او د زخمونو لپاره مرهم دی. په انساني ټولنه کې چې څومره نوې قضاياوې پېښېږي، او څومره پر مختګونه رامنځته کېږي؛ نو د شريعت احکام ترې شاته نه پاتې کېږي، او د اسلامي نړۍ فقهاء د دغو قضاياوو لپاره په ځانګړې ډول يا په ډله ييزه توګه څېړنې کوي او د شريعت له نصوصو او يا هم د عامه قواعدو په رڼا کې د دغه پېښو لپاره احکام ښکاره کوي، د دغه قضاياوو په رڼا کې هم د طب په ډګر کې د مصنوعي القاح پديده ده چې په پرمختللو هيوادونو کې منځ ته راغلې او ورو ورو نورو هېوادونوته لاره کوي چې په اسلامي نړۍ کې هم يو شمېر روغتونونو کې د مصنوعي القاح ځينې ډولونو ته د عمل جامه وراغوستل کېږي، چې دا يوه نوې او معاصره موضوع ده، چې ځای ځای يې معاصرو فقهاوو په جزئي شکل سره ترې يادونه کړې ده،خو د موضوع د نوښت له کبله د يوې مستقلې علمي مقالې په توګه يې په اوسني وخت کې څېړنه اړين کار دی، او په علمي ډګر کې د يوې داسې ستونزې له پاره حل دی چې په ټولنه کې د يوې مستقلې علمي څېړنې په توګه په هر اړخيزه توګه د سره نه ده ځواب شوې؛ نو مونږ اړينه وګڼله چې( مصنوعي القاح د اسلامي فقهې له ليده) تر سرليک لاندې موضوع وڅېړو او درنو لوستونکو ته يې د مطالعې له پاره وړاندې کړو، هېله ده چې د علمي قشر د ګټې وړ به وګرځي.

**د څېړنې ستونزه**

دا چې د اسلامي شریعت په صریحو نصوصو او اسلامي فقهې په پخوانیو متونو کې د مصنوعي القاح په تړاو داسې څرګندونې نه تر سترګو کېږي چې د مصنوعي القاح ډولونه او فقهي حکم په ډاګه کړي، همدا راز یو شمېر شرعي نصوصو کې ډېر اولاد درلودلو ته هڅونه کوي. له بل پلوه، د نکاح اړوند قضایاوو په اړه داسې کلک ضوابط او قواعد رالېږلي دي چې د ناموس او نسل پر خوندیتوب ټینګار کوي. ولې، د مصنوعي القاح له لارې هغه څوک اولاد پیدا کوي چې په عادي توګه اولاد نه شي راوړی، خو ستونزه دا ده چې د اسلامي فقهې په متونو کې د دې حکم په اړه وضاحت نه دی شوی، چې تر څو په ډاډه زړه په دې برخه کې عمل وکړای شي. په دې علمي مقاله کې به دغه ستونزه په پښتو ژبه ځواب شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

**الف-کلي پوښتنه:** په اسلامي فقه کې د مصنوعي القاح حکم څه دی؟

**ب- فرعي پوښتنې:** ۱- مصنوعي القاح په څو ډوله ترسره کېږي؟ ۲- مصنوعي القاح له کومو پړاوونو تېره شوې ده؟

**د څېړنې موخې:**

**الف- کلي موخه:** د مصنوعي القاح حکم په ډاګه کول.

**ب- جزئي موخې:** ۱- د مصنوعي القاح ډولونه او لارې چارې پېژندل. ۲- د مصنوعي القاح تاریخي سېر پېژندل.

**د څېړنې ارزښت**

د اسلام کورني نظام، معاصرو قضایاوو په ذکر کې د مصنوعي القاح اولاد زېږونه او حکم پېژندل یې څېړنه یو له هغو موضوعګانو څخه ده چې په اوسني وخت کې ورته سخته اړتیا لیدل کېږي؛ ځکه د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې په روغتونو کې د مصنوعي

القاح عملیات تر سره کېږي او له دې لارې څخه خلک د داولاد دپیدا کوله هېله پوره کوي او خلک یې د ځان لپاره اړتیا بولي، خو له بله پلوه په ټولنیز ژوند کې د دا ډول کړنو د تر سره کولو د حکم په تړاو هیڅ ګونګوسي هم شتون نه لري، د اسلامي فقهې په پخوانیو متونو کې هم د دې موضوع په تړاو څرګندونې نه دي شوي، او بحث پرې نه دی شوی؛ نو په اوسني وخت کې د دا ډول موضوع ګانو بحث او څېړنه سخت اړین کار دی، تر څو عام، خلک، ډاکټران، او ټولې ښکېلې غاړې یې په حکم پوه شي، چې ددې علمي مقالې پر مټ به په پښتنه ټولنه په دې برخه کې یوه ډیوه بله او اړمنو ته به رڼا ورکړې.

**تیرو آثارو ته کتنه**

دا څېړنه چې د مصنوعي القاح او د هغې فقهي حکم تر سرلیک لاندې تر سره شوې ده چې د مصنوعي القاح په اړوند یو شمېر طبي او شرعي څېړنو صورت موندلی دی، خو هغه چې طبي څېړنې دي، هغه د مصنوعي القاح په څرنګوالي او روغتیایي برخه باندې بحث کړی دی او فقهي حکم څخه یې یادونه نه ده کړې. البته د څو هغو لیکوالانو لیکنې چې د مصنوعي القاح اړوند یې تر سره کړي دي او زما د لیکنې سره توپیر لري په لاندې کرښو کې رانغاړم:

١. جداع، محمد جمال ( ٢٠٢٢م) عقد التلقيح الصناعي، جامعة الاسكندرية. دا څېړنه چې د ماسترۍ د رسالې په توګه د اسکندریې پوهنتون، حقوقو پوهنځي د مدني قانون په څانګه کې د یوې حقوقي څېړنې په توګه تر سره شوې ده او تر ډېره بریده یې لکه د نوم څخه چې یې څرګندېږي د مصنوعي القاح پر تړون ټینګار کړی دی او د فقهي قواعدو او ضوابطو په اړوند یې ژوره کتنه نه ده کړې.

٢. الشارخ، محمد بن حامد محمد ( ٢٠١٩م) المسؤولية عن الخطأ في التلقيح الصناعي في النظام السعودي، دا څېړنه چې په (جامعة نايف العربية للعلوم الأمنية) پوهنتون، د جنایي عدالت پوهنځی د جنایي قانون څانګې کې تر سره کړې ده، او ډېر ټینګار یې په قانوني جنائي مسؤولیت باندې کړی دی چې د

سعودي عربستان د قانون له مخې هغه چاته راجع کېږي چې په طبي ډګر کې دغه عمليات تر سره کوی.

۳. الحضري، سوسن صالح احمد عوض، ( ۲۰۱۶م) مسؤولية الطبيب فى التلقيح الصناعي. دا څېړنه د تعز پوهنتون د مدني قانون استاد آغلی سوسن صالح الحضرمي تر سره کړې ده او په دې کې يې هم په مصنوعي القاح کې د طبيب پر مسؤوليت بحث څرخولی دی، او د هغو فقهي ضوابطو او قواعدو په اړوند يې بحث نه دی کړی کوم چې د مصنوعي القاح د مشروعيت او عدم مشروعيت لپاره معاصرو فقهاوو پرې بحثونه کړي دي.

چې په دې څېړنيزه مقاله کې مصنوعي القاح او هغې ته ورته ټول اصطلاحات پېژندل شوي، ډولونه يې روښانه شوي او بيا يې د هغو فقهي قواعدو اوضوابطو په رڼا کې فقهي حکم روښانه شوی دی چې معاصرو فقهي مجمع ګانو يې يادونه کړې ده.

## د څېړنې کړنلاره او مواد

مصنوعي اولاد زېږونه تر سرليک لاندې دا مقاله په توصيفي بڼه او تحليلي مېتود سره څېړل شوې چې اوړدو کې يې د چاپ شويو کتابونو تر څنګ د آنلاين کتابتونو څخه ګټه اخيستل شوې ده. د توثيق په برخه کې د (APA) سيستم کارول شوی دی او هر فقيه او ليکوال ته يې قول له زياتې او کمې پرته منسوب شوی دی، د څېړنې، اقتباس، تحليل او ليکنې پر مهال ټول علمي اصول په پام کې نيول شوي دي.

## مصنوعي القاح پېژندنه

مصنوعي القاح د هغه عمليې څخه عبارت دی چې له طبيعي طريقې پرته د وسائلو په وسيله د نارينه سپرم د مېرمنې د هګۍ يا بويضې سره يو ځای کوي او بيا له هغې څخه ماشوم پيدا کېږي. چې دا عمليه د طب په ډګر کې د مصنوعي القاح، مصنوعي اولاد او نورو نومونو سره يادېږي، او هغه ماشومان چې له دې لارې څخه زېږېږي هغوی ته اطفال

الأنابيب يا د تيوبونو بچي ويل کېږي. له دې امله چې د مېرمنې بويضه د نارينه د اوبو سره د تيوب په منځ کې يو ځای کوي. (مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ج۲: ۱۹۲)

**د مصنوعي تلقيح تاريخي او مکاني پس منظر ته کتنه**

لومړی مصنوعي زوی چې دنيا ته راغی هغه (لويز بروان) و چې د (ليزلي بروان) ځخه پيدا شو او دغه پيښه په کال ۱۹۷۷ ميلادي د نومبر په لسمه په برتانيا کې واقع شوه، او د دوو ډاکټرانو لخوا هر يو (استبتوا او ادواردر) په هڅو بريالۍ شوه، دغو دوو ډاکټرانو دنومورې ښځې (بويضه) د هغه د خاوند سره تلقيح کړه او بيا دغه انجلۍ د (مصنوعي) ماشومې په نوم شهرت وموند، چې وروسته ميډيا دغه پيښه ټولې نړۍ ته ورسوله آن چې د ميډيا ټول وسائل دغې پيښې ته اولويت ورکړ ترديې چې د وخت مهمه قضيه وګرځيده، ددې ځخه وروسته مصنوعي اولاد شروع شول چې د وخت په تيريدو سره په نړۍ کې سلګونو ته ورسيدل.

ددې ځخه وروسته دغه کار يو لړ اخلاقي ستونزې او مشکلات را ولاړ کړه، د شکونو او اشتباهاتو پيښې زياتې رامنځته شوې، چې لوېديځه نړۍ دوو برخو ته وويشله شوه، چا دغه کار وستايل او چا رد کړ، ترديې چې ددغې پيښې بنسټ اېښودونکی ډاکټر (ادواردر) څرګنده کړه چې په دغه ډګر کې بايد د اخلاقو او آدابو لپاره يو اساس کيښودل شي.

ددې ځخه وروسته لومړی اولاد د (ظئر رحم) ځخه منځته راغی چې موضوع يې د برتانيې محاکمې ته ولاړه، د وکالت مور يا (د رحم ظئر) مور د ماشوم تسليميدل هغې ښځې ته چې اوبه (بيضه) يې ورکړې وه رد کړه، سره ددې چې ترون داسې واقع شوی و چې کچيرې ماشوم پيدا شي نو هغه به د (بيضې) خاوندې ته تسليموي. (سباعې، ۱۹۹۸: ۵۸۲)

ددې ځخه وروسته نورې قضايا را منځته شوې، ځکه لوېديځ طبابت غوښتل چې په انساني ډګر کې نورې تجربې ترسره کړي او هم پدې ساحه نوې لاسته راوړنې ولري چې په پايله کې دغه لاندې چارې هم ترسره شوې: د انساني اوبو (مني) بانک، د جيناتو

تجمید یا یخول، د خصیتینو پیوند، د رحم پیوند.، د خیتې اجاره کول، چې دیته یې د خیټو اجاره کوونکې او یا هم د وکالت مورګانې وویلې، متبرع مور، (هغه چې خپلې اوبه (بیضه) تبرع کوي)، متبرع پلار، (هغه چې خپل مني تبرع کوي) او دې کړنې ته پخوا کې په مصر کې صدفه ویل کیدل، بضع تلقیح، د مبیض پیوند، اتلوج اول، -د میره د مړینې څخه وروسته حمل اخیستل، مصنوعي اولاد، مصنوعي پیوند، د (ظئر رحم) حاضنه. (مجلة المجمع الفقه الاسلامي، ج۱۰: ۱۸۷)

## د مصنوعي القاح ډولونه

مصنوعي القاح په لاندې ډولونو سره صورت نیسي چې علي البار (۲۰۰۵م) کې د بحث لاندې نیولي دي چې تاسې یې په لاندې توګه لوستلای شئ

## لومړی ډول: مصنوعي داخلي تلقیح

دې ته داخلي حاصل خیزه تلقیح هم ویل کېږي، پدغه ډول تلقیح کې دسړي اوبه اخیستل کېږي او پیچکارۍ په واسطه د خپلې ښځې یا بلې پردۍ ښځې په رحم کې اچول کېږي:

## دویم ډول: مصنوعی خارجي تلقیح

مصنوعي خارجي تلقیح، پدې قسم تلقیح کې د سړي او ښځې دواړو اوبه اخیستل کېږي برابره خبره ده که دا دواړه خاوند او ښځه وي او که پردي وي، د دوئ دواړو اوبه په یو تیوب یا پیپ کې اچول کېږي او هلته تر طبي څارنې لاندې نیول کېږي وروسته له معاینې څخه یې دښځې په رحم کې په مناسب ځای کې ځای پر ځای کوي، دغه قسم تلقیح په واقعیت کې دوو ډولونو ته ویشل کېږي:

**لومړی:** ذاتي تلقیح، دخپل خاوند او ښځې اوبه اخیستل او بیا دهمدې ښځې په رحم کې پیچکاري کول.

**دویم:** اجنبي تلقیح، پدې ډول تلقیح کې د یو طرف یا هم دواړو لورو اوبه پردۍ وي (علی البار، ۲۰۰۵: ۱۵۲)

مجمع الفقه الاسلامي چې مرکز یې په مکه مکرمه کې دی دغه واړه لارې او ډولونه په کال ۱٤۰٤ هجري کې څیړلې چې د داخلې تلقیح یې دوه لاري څرګندې کړي او د خارجي تلقیح یې پنځه ښودلي دي چې دغه لارې په لاندې ډول دي:

## د مصنوعي داخلي تلقیح لارې

**لومړۍ لار:** پدې طریقه کې به د سړي نطفه چې مؤهل وي واخیستلی شي او دخپلې ښځې په مناسب ځای کې به پیچکاري کړی شي، ترڅو نطفه په طبیعي شکل د ښځې له نطفې سره یو ځای شي، د دواړو ترمنځ به تلقیح صورت ونیسي بیا به د رحم په طرف کې د الله په امر علوق رامنځته شي، دغه لاره هغه مهال کارول کېږي چې کله ستونزه په سړي کې وي که هغه د هرمشکل له کبله وي چې اوبه خپل ټاکلي ځای ته نه شي رسولای.

**دویمه لار:** پدې طریقه کې به د سړي اوبه یا نطفه واخیستله شي او د پردۍ بل سړي د ښځې په رحم کې به پیچکارۍ کړی شي ترڅو تلقیح داخلي بڼه خپله کړي، بیا به علوق د ښځې په رحم کې صورت ونیسي، البته دغه لار هغه مهال کار ول کېږي چې کله خاوند شنډ وي، په اوبو کې یې د اولاد غدې نه وي موجودې، نو د نارینه نطفه به له بل چا څخه اخیستله کېږي.

## د خارجي تلقیح صورتونه یا لارې

**لومړۍ لار:** د سړي څخه به نطفه واخیستله شي، او ښځې له مبیض څخه به بویضه واخیستله شي دا به په طبي پیپ کې معاینه کړی شي، چې ټول فزیکي شرایط به پکې مراعات کړي ترڅو دسړي نطفه د ښځې په بویضه کې تلقیح کړی شي دهغه څخه وروسته چې تلقیح کړی شوې نطفه د زیادت او تقسیم حالت ته انتقال شي نو په مناسب وخت کې به د معاینه کړی شوي پیپ څخه د هغې ښځې رحم ته انتقال کړی شي چې د بویضې

ښځینه وه، دهغې په رحم کې به د نورو جنینو په شان وده وکړي، چې د حمل دمودې څخه وروسته به يې يا هلک او يا هم انجلۍ پيداشي، دغه هغه مصنوعي ماشوم دی چې علمې څيړنو د الله پاک په امر منځته راوړی دی، او تردې مهاله ګڼ شمير هلکان او جنکۍ په دا ډول دنيا ته راغلي دي، چې نړيوالې ميډيا او ورځپاڼو په بيلابيلو وختونو کې نشر کړيدي، البته دغه لار هغه وخت کارول کيږي چې کله ښځه شنډه وي.

**دويمه لار:** د نطفې معاينه به د خارجي تلقيح له لارې صورت نيسي پدې معنی چې د خاوند نطفه به واخيستله شي او بيا به د بلې پردۍ ښځې چې هغې ته (متبرعه) ويل کېږې بويضه واخيستله شي او د ښځې په رحم کې به تلقيح کړی شوي اوبه پيچکاري کړي،دغه لار هغه مهال کارول کېږي چې کله د ښځې مبيض بيخې نه وي او يا له کاره لويدلې وي مګر رحم يې جوړ او ددې وړ وي چې تلقيح کړي شوي قبول کړي.

**دريیمه لار:** خارجې تلقيح به په معاينه کړي شوي پيپ کې د سړي د نطفې او ښځې د بويضې ترمنځ صورت ونيسي چې دغه ښځه به د دغه سړي ښځه نه وي دغې ښځې ته هم (متبرعه) ويله کېږي بيا به تلقيح کړي شوي نطفه دبلې داسې ښځې په رحم کې پيچکارې کړي چې با خاونده وي، دغه لار هغه مهال کارول کېږي چې کله با خاونده هغه ښځه چې ددې په رحم کې تلقيح کړی شوي نطفه پيچکارې کړي شنډه وي، مبيض يې له کاره لويدلی وي، مګر رحم يې جوړ او سالم وي دارنګه يې خاوند هم شنډ وي خو دواړه د زوی غوښتنه لري.

**څلورمه لار:** خارجې تلقيح به د معاينې په پيپ کې د دواړو خاوند او ښځې اوبو ترمنځ صورت ونيسي بيا به دغه تلقيح کړی شوي نطفه د بلې هغې ښځې په رحم کې پيچکاري کړی شي چې دحمل مسؤوليت پر غاړه اخلي، دغه لار هغه مهال کارول کېږي چې کله دښځې رحم ددي وړ نه وي چې حمل واخلي مګر مبيض يې صحيح او سالم وي يا هم داسې وي چې شتمنه وي نه غواړي چې دحمل پيټی پر غاړه واخلي نو بله ښځه دغه حمل ته اماده کېږي.

**پنځمه لار:** دغه صورت هم د مخکنی شپږمي لار په شان ده صرف دومره خبره ده چې بله ښځه چې دحمل پیټی پر غاړه اخلي هغه ددې بنه وي، البته دغه لار په هغو هیوادونو کې نه پلي کېږي چې نظام یې د یوي څخه د زیاتو ښځو د نکاح کولو اجازه نه ورکوي. (مجلة مجمع الفقه الاسلامی، ج٢: ٩٢-٩١)

## دمصنوعي القاح لاملونه

علماوو مصنوعي القاح ته د اړتیا لاملونه بحث کړي دي چې لنډیز یې مونږ په لاندې توګه رانغښتی دی چې لومړی یې د دا خلي القاح لاملونه او ورپسې د خارجي القاح لاملونه په ګوته کوو:

## د داخلي القاح لاملونه:

**الف-** د سړي په اوبو کې دحیواني غدو کمزورتیا: نو د ده اوبه اخیستل کیږي دهغو معاینه کیږي او بیا یې دښځې رحم ته د انجاب په وخت کې داخلوي.

**ب-** دښځې د مجری تروشوالی زیادت په دومره اندازه کې چې په غیر عادي توګه دسړي حیواني غدې وژني.

**ج-** کله چې دخاوند او ښځې د کروياتو په منځ کې تضاد موجود وي.

**د-** کله چې سړی په عاجل انزال اخته وي او یا هم د کوروالی توان ور سره نه وي.

**هـ-** کله چې دښځې د رحم خوله تنګه وي او نه پریږدي چې حیوانی غدې داخلې شي.

**و-** کله چې سړی په ناوړه ناروغۍ اخته وي لکه «سرطان» او دغه ناروغي دداسې علاج غوښتنه کوي چه د برق شعاع ورکړی شي، نو دغه قسم علاج دشنډوالي لامل ګرځي، پدې حالت کې به د انسان مني اخیستل کیږي او هغه به ساتل کیږي بیا به یې په مناسب وخت کې ښځې ته پیوند کړي. (طریفي، ٢٠٠٣: ٢٨٥)

**دخارجي مصنوعي القاح (پیوند) لاملونه:**

**الف-** د مجرى بندوالى په دوارو طرفونو کې، او هم يې د جراحي عملياتو ناکامي.

**ب-** د ښځې په رحم کې دبيرته غورځيدو اسباب پيدا کيدل.

**ج-** د ښځې په تناسلي آله کې د متضادو غدو پيدا کيدل.

**د-** د نارينه په تناسلي آله کې د متضادو غدو پيدا کيدل.

**هـ-** د سړي په مني کې دسختو عيبونو پيدا کيدل لکه: (دمني لږوالې، لږ حرکت، د ډيرو مړو حيواني غدو موجوديت او داسې نور ......).

**و-** په ښځه او سړي کې ديو لړ نامعلومو داسې اسبابو پيداکيدل چې د انجاب مخه نيسي.

**ز-** د ښځې په رحم کې د داسې غدو پيدايښت چې د حيواني غدوسره په ټکر کې وی. (شلتوت، ۱۹۹۰: ۲۲۸)

**د مصنوعي تلقيح اړوند قواعد او شرعي حکم**

د اسلامي فقهې دغه قواعد بايد په پام کې ونيول شي چې د مصنوعي القاح په اړوند فقهاوو ترې يادونه کړې ده چې په لاندې توګه مو رانغښتې دي:

**لومړۍ قاعده:** ټول علماء او پوهان پدې متفق دي چې د اولاد فطرتي او شرعي پيدايښت له يوځايوالی د تناسلي آلې څخه شروع کېږي، چې دنارينه منوي اوبه د ښځې له اوبو سره دهغې په رحم کې قرار مومي، او په څو پړاوونو کې وده او ترقي کوي، څکه دغه غدې زياتيږي او بيا پکښې روح اچوله کېږي چې په پای کې حمل او ولادت د الله په امر سره صورت نيسي.

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن سُلَـٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَـٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا

ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ﴾ [المُؤْمِنُون: ١٢ - ١٤]

**ژباړه:** مونږ انسان له مکنې نرمي خټې څخه جوړ کړ، بیا مو هغه په یو محفوظ ځای کښې په څڅېدلې څاڅکې تبدیل کړ، بیا مو هغه څاڅکي ته د برغنډ بڼه ورکړه، بیا مو برغنډ بوټۍ وګرځوله، بیا مو بوټۍ هډوکي جوړ کړل، بیا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله، بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ، نو خورا زیات برکتناک دی الله تر ټولو کاریګرو ښه کاریګر.

دارنګه فرمايي: ﴿فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ۝٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ﴾ [الطَّارِق: ٥ - ٧]

**ژباړه:** بیا دې لږ غوندې انسان دیته ځیر شي چه هغه له څه شي څخه پیدا کړای شویدی، له ټوپ وهونکو اوبو څخه پیدا کړای شویدی چه د شا او د سینې دهډوکو له مینځ نه راوځي.

او په بل ځای کې فرمايي: ﴿أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ۝٢٠ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ۝٢١ إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ۝٢٢ فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ﴾ [المُرْسَلَات: ٢٠ - ٢٦]

**ژباړه:** ایا مونږ له ناڅیزه اوبو نه تاسې پیدانکړئ او تر یوې ټاکلې مودې پورې مو هغه په یو محفوظ ځای کې تم کړې؟ نو ګوره، مونږ پدې قادر وو، او مونږ د ډېر ښه قدرت درلودونکی یو.

دارنګه یې فرمايلي دي: ﴿إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا﴾ [الإِنسَان: ٢]

**ژباړه:** مونږ انسان له یوې ګډې شوې نطفې څخه پیداکړ ترڅو چې هغه وازمايو او ددې غرض لپاره مونږ هغه اوریدونکی او لیدونکی وګرځوه.

له عبد الله بن مسعود څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته وویل: (ستاسو د یوه پیدایښت د مور په رحم کې څلویښت ورځې جمع کېږي، بیا یوه علقه شي، او بیا یوه یو ټوټه د غوښې جوړه شي، وروسته الله پاک ورته پرښته ولېږي او هغه پکې روح واچوي). (بخاري، ۱۴۱۴هـ،ج۸: ۷۸)

**دویمه قاعده:** هر مولود له خپل پلار سره اړیکه لري، چې دغه اړیکه په وراثت او پیدایښت پورې تړاو لري، او هم دغه اړیکه له (منوي غدې) څخه منځته راځي، مګر د مور سره یې بیا دوه اړیکې وي:

لومړی: د پیدایښت او وراثت صفت چې دغه اړیکه له (بیضه)څخه منځته راځي.

دویمه: د حمل، ولادت او حضانت صفت دغه اړیکه له (رحم) څخه صورت نیسي.

دغه مولود له خپلو والدینو سره شرعي او طبیعي اړیکه لري، او هم پدغې اړیکې پورې ټول شرعي احکام تړلي دي.

هرکله چې (منوي حیوان) د نا اشنا سړي لخوا د تبرع په شکل صورت ونیسي نو د دغه اولاد اړیکه په عقلي، واقعي، طبعي او شرعي لحاظ قطع وي.

«**الولد للفراش و للعاهر حجر**» بچی د فراش دی او زناکارې لپاره سنګسار دی. (صحیح المسلم: شماره ۱۱۵۷)

دارنګه کله چې د ښځې (بیضه) د نا آشنا ښځې لخوا وي چې د دغه سړي لپاره یې تبرع کړې، نو پدې صورت کې یوه اړیکه قطع کېږي چې هغه (بیضه) ده، او دغه قطع والی په عقل، واقعیت، طبیعت او شریعت سره معلوم دی.

کچیرې د انسانیت ټولې غدې که هغه (منوي حیوان) وي او که د ښځې (بیضه) وي خو دواړه دبلې پردۍ ښځې په رحم کې تلقیح کړی شي نو دویمه اړیکه چې حمل او ولادت دی په قطعي ډول قطع ده.

ددې قاعدې پر بنسټ کله چې دواړه اړیکې له مور سره وشلیږي نو دا بیا په هیڅ حالت کې مور نشي کیدلای، او هیڅ مسلمان بلکې هیڅ بشر دیته مور نه وایي، خو کله

چې دواړه اړيکې تحقق ومومي نو په طبېعي، واقعي او شرعي لحاظ مور بلله کېږي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ ۝١٢ ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ﴾ [المُؤْمِنُون: ١٢ - ١٣]

**ژباړه:** مونږ انسان له مکني نرمې خټې څخه جوړ کړ، بيا مو هغه په يو محفوظ ځای کښې په څڅېدلې څاڅکې تبديل کړ.

دا راز ټول مسلمانان پدې متفق دي چې د دين له ضرورياتو څخه دا ده چې له (قرار مکين) څخه مقصد د شرعي مور رحم دی نه دبل چا، الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ۝٤٥ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ﴾ [النَّجْم: ٤٥ - ٤٦]

**ژباړه:** او داچې هغه نر او ښځه جوړه پيدا کړه له يو څاڅکي نه کله چې هغه څڅول کيږي.

پدې اساس محترمه نطفه هغه ده چې د خاوند او ښځې وي او په همدې کې الله پاک پخپلو بندګانو احسان کړيدی، او هم يې په همدې کړنې سره په مريم عليها السلام امتنان او احسان کړيدی پدې هلکه يې داسې فرمايلي دي: ﴿مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا﴾ [مَرْيَم: ٢٨]

**ژباړه:** ای د هارون خورې، نه ستا پلار کوم بد سړی ؤ او نه ستا مور کومه بدکاره ښځه وه.

دارنګه الله پاک فرمايلي دي: ﴿وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا﴾ [النَّحْل: ٧٨]

**ژباړه:** الله تاسې ستاسو دميندو له ګېډو نه پداسې حالت کښې را وايستلئ چې تاسې په هېڅ نه پوهيدلئ. ﴿إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔى وَلَدْنَهُمْ﴾ [المُجَادلَة: ١ - ٢]

**ژباړه:** د هغو ميندې خو همغه دي چې هغوی يې زيږولي دي.

﴿يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ﴾ [الزُّمَر: ٦]

**ژباړه:** هغه ستاسې د میندو په ګېډو کښې له دریو تیارو پردو نه دننه تاسې ته یو په بل پسې یوه بڼه درکوي.

﴿وَإِذۡ أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ﴾ [النَّجم: ۳۲]

**ژباړه:** او کله چې تاسې لا د خپلو میندو په ګېډو کښې اومه ماشومان (جنین) وئ

﴿حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ﴾ [لُقْمَان: ۱٤]

**ژباړه:** د هغه مور د کمزورۍ د پاسه کمزورۍ په حال کې هغه راخیستی په خپله ګېډه کې یې وساته.

﴿حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ كُرۡهٗا وَوَضَعَتۡهُ كُرۡهٗاۖ﴾ [الأَحْقَاف: ۱٥]

**ژباړه:** د هغه مور کړاو ګاله هغه یې په ګېډه کښې وساته او د کړاو په ګاللو سره یې هغه وزیږاوه.

په پورتنیو آیتونو کې له مور څخه شرعي مور مقصد ده، او په کومو آیتونو کې چې دپلار ذکر راغلی له هغه پلار څخه هدف شرعي پلار دی.

نو شرعي پلار او مور هغه دي چې د دوی دواړو څخه مولود منځته راځي، هر کله چې د پلار اوبه د مور په رحم کې تویږي شي، او هغه لدینه حمل واخلي نو دغه اولاد د پلرنی او مورنی صفت خپلوي، او هر کله چې یو له دغو اړیکو څخه قطع شي نو دغه صفت نشي خپلولای (مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ج۱۰: ۲۱٦)

**دریمه قاعده:** (التدافع بین المضار والمنافع) د ضرر او منفعت ترمنځ دفع والی.

هر کله چې کوم لوری غالب شي نو حکم هم دغالب لپاره وي که هغه حلال وي یا حرام،خو کله چې دواړه یو برابر راشي بیا پکښې فقهاء اختلاف لري.

پدې بنسټ د مصنوعي تلقیح صورتونه ددغې قاعدې تابع دي چې د دواړو لورو منفي او مثتبې اغیزې به په نظر کې نیولې کېږي.

**څلورمه قاعده:** د قرآني او نبوي نصوصو څخه څرګندیږي چې د انسان بدن او د هغه منافع د ده ملکیت ندي، دی نشي کولای پدې کې داسې تصرف وکړي چې د شرعي

حدودو مخالف وي، بلکې د ده تصرف به د شرعي مصلحت په بنسټ وي، لکه څرنګه چې د لیدنې نعمت د ده ملکیت دی خو دی نشي کولای چې خپل نظر حرام شي ته وغزوي، دارنګه شهوت په انسان کې اچول شوی دی، او اجازه ورکړی شوی چې دغه شهوت دخپلې ښځې په اوبو کې سوړ کړي خو نشي کولای چې د زنا یا لواطت له لارې ختم کړي.

دا راز کولای شي چې خپله ښځه د اولاد د پیدایښت په خاطر وطئ کړي خو حرام ده چې دغه اولاد د بلې ښځې د اوبو څخه لاسته راوړي.

**پنځمه قاعده**: د حاجاتو او ضروریاتو په ځایونو کې به عامه فتوی نه ورکوله کېږي، خو کله چې څوک پدغسې مشکل اخته شي نو د هغه حالت به ځانته معلوموي او بیا به ددین د دائرې د جواز په چوکاټ کې فتوی ورکوي.

**شپږمه قاعده:** لازمه ده چې واقعیت به د شریعت تابع ګرځوي، پدې اساس روا نده چې ددې څخه مخالفت وکړي.

**اومه قاعده:** د نسب او ناموس ساتنه له اساسي مقاصدو د شریعت څخه ده، او هم دغه دواړه له پنځو ضروریاتو د دین څخه دي هغه چې ددین احکام په همدې پورې تړاو لري.

نو پدې بنست لازمه ده چې د انسانیت دغه غدې به په ټولو پړاونو کې پاک او صفا وي، همدا لامل دی چې اسلام په قطعي توګه زنا حرامه کړیده د دې سربیره یې قذف هم حرام کړی ترڅو پدې سره ټولې هغه لارې وتړل شي چې دغه کار ته زیان اړوي (بهوتي، ۱۹۹۷: ۸۹)

## د مصنوعي القاح حکم

پدې کې شک نشته چې هغه چې خپله ذاتا حرام وي هغه حرام دی او په هیڅ حالت کې ددې مجال نه پیدا کېږي چې مباح شي.

هغه شی چې د بل شي له کبله حرام ګرځول شوی وي دا پدې معنی چې وسیله یې حرامه ده، نو آیا دا په کوم حالت کې مباح کیدای شي؟

د دغه حالت څخه لاندې تفریعات لاسته راځي:

**لومړی فرعه:** د پردي سړي او پردۍ ښځې اوبه د داسې ښځې په رحم کې اچول چې هغه باخاونده وي.

**دويمه فرعه:** د دواړو خاوند او ښځې اوبه دداسې ښځې په رحم کې اچول چې بیضه ولري او دا هم د خاوند له وفات څخه وروسته.

**دريمه فرعه:** د د واړو خاوند او ښځې اوبه په پردي رحم کې اچول.

**څلورمه فرعه:** د دواړو خاوند او ښځې اوبه دبلې بنې په رحم کې د داخلي یا خارجي تلقیح له لارې اچول.

**پنځمه فرعه:** د دواړو خاوند او ښځې اوبه د ښځې په رحم کې د داخلي یا خارجي تلقیح له لارې اچول.

**ددې ټولو تفریعاتو حکم په لاندې ډول دی**

**دلومړۍ فرعې حکم**

پدې صورت کې دواړه اوبه پردۍ وي نو کچیرې دواړه اوبه پردۍ وي یا د یو لورې اوبه پردۍ وي او ښځه لدې څخه حمل واخلي دا حمل د زنا او سفاح حمل دې چې په قطعي توګه حرام دی، ځکه دا دذات حرمت دی نه د وسیلې.

سالم فطرت او صحیح عقل هم د دغه غوښتنه کوي، شیخ شلتوت د دغه حرمت لپاره پخپله فتاوی کې بې شمیره دلائل راوړي دي نو کولای شې چې هلته ورته مراجعه وکوې.

### د دویمې فرعې حکم

مصنوعي تلقیح وروسته له قطع والی د نکاح دعقد که هغه په وفات سره وي یا طلاق سره حرام قطعي دی، ځکه نکاح نوره شلیدلې او نکاح عقد چې قطع شي بیا تلقیح په هیڅ صورت جواز نلري.

### د دریمې فرعې حکم

اعاره کړی شوی پردی رحم، دغه قسم تلقیح هم حرامه ده، ځکه رحم پردی دی، نو کله چې رحم پردی وي بیا تلقیح جواز نلري، بل داچې ابوت او امومت په صحیح رحم پورې تړاو لري، نړیوالې میډیا او سر شمیرنو ښودلې چې په نړۍ کې ګڼ شمیر ستونزې او اختلافات د همدغسې اولاد په سر منځته راغلي دي،ځکه اوبه به د یوې ښځې وي او رحم به دبلې نو هرې یوې به د اولاد دعوی کوله، ددې سربیره سر شمیرنو ښودلې چې دوه سوه پنځوس زره هلکان دمصنوعي تلقیح له لارې منځته راغلي او پلرونه یې ندي معلوم.

### د څلورمې فرعې حکم

دغه تلقیح هم حرامه ده، ځکه اصلي مور نامعلومه ده، د دې سربیره شونې ده چې د هغې ښځې اوبه چې له هغې څخه اخیستل شوې وي، دهغې بلې له اوبو سره ګډې شي نو بیا نه معلومیږي چې جنین د کومې یوې د اوبو څخه منځته راغلی، دارنګه امکان لري چې دهغې نطفه مړه شوې وي او دغه بیا د جنین سره یو ځای د ولادت پر مهال وځي، نو پدې صورت کې هم نه معلومیږي چې بچې د کومې یوې د اوبو څخه منځته راغلی، پدې اساس دغه تلقیح هم ناروا او حرامه ده. (ذیاب، صبحي ۱۹۸۹: ۲۴۵)

### د پنځمې فرعې حکم

پدغه صورت کې اوبه خپله دخاوند او ښځې وي چې د معاینې وروسته یې د همدې ښځې چې بویضه یې لرله د داخلې یا خارجي تلقیح له لارې پیچکاري کړي، د دغه قسم تلقیح په هکله معاصر علماء جلاجلا نظریات لري چې هغه په لاندې ډول دي:

**لومړی نظر**: د دغه نظر څښتنان دغه قسم تلقیح ته مطلق حرام وایي، او د خپلې نظریې د تأیید لپاره په لاندې دلائلو استدلال کوي:

**الف:** مشهوره او پیژندل شوې لار دنسل جماع (کوروالی) دی، قرآن کریم هم دیته اشاره کړې او د زراعت تعبیر یې ورڅخه کړی دی.

**ب:** د ناوړه پیښو او ناروا کارونو د مخنیوي لاملونه ختمول، او پدې کار کې شونې ده چې له یو شخص څخه مني واخیستل شي او د بلې پردۍ ښځې په رحم کې واچول شي.

**ج:** دغه کړنه (مصنوعي پیوند) بې شمیره شکونه راولاړه وي، او د ناموس ساتنه له اساسي مقاصدو دشریعت څخه ده.

**دویم نظر**: د دغه نظر څښتنان دغه ډول تلقیح ته د شرائطو په مراعات کولو سره جواز ورکوي، او شرائط یې په لاندې ډول دي:

**الف-** دعورت لوڅول به د ضرورت په اندازه وي.

**ب-** د امکان ترحده به یې چارې یا علاج مسلمانه ښځه تر سره کوي، که دا نه وي نو کافره ښځه به یې تر سره کوي، که هغه هم نه وي نو ثقه مسلمان ډاکټر به یې تر سره کوي، او که دا هم نه وي نو کافر ډاکټر بیا کولای شي چې تر سره یې کړي.

**ج-** د علاج پر مهال به خلوت صورت نه نیسي.

**د-** دلقاح (پیوند) کړنه به دسړي په موجودیت او رضا سره تر سره کیږي.

**هـ-** د دواړو ــ سړي او ښځې ــ اضافه اوبه به تلف کوي، هغه به نه ساتي.

**و-** دنسب د نه ګډوالي له کبله به ټول احتیاطی تدابیر په نظر کې نیسي، او غوره به دا وي چې لقاح (پیوند) په مستقیمه توګه صورت ونیسي.

**دریم نظر**: دوی بیا پدې اند دي چې داخلي تلقیح جواز لري او خارجې یې نلري، دوئ دخپلې دعوی لپاره لاندې دلائل راوړي دي:

الف: مصنوعي القاح د طبیعی القاح په شان ده، ځکه د دواړو څخه موخه اوهدف په شرعی توګه دنسل منځ ته راوړل دي.

ب: په مصنوعي القاح کې شرعي مقصد لاسته راځي او هغه دنسل کثرت دې.

ج: دا مباح تداوي ده چې شریعت مباح تداوي ته جواز ورکړی.

**ځلورم نظر:** د دغه نظر څښتنانو بیا په موضوع کې توقف اختیار کړیدی.

**پنځم نظر:** ددې نظر څښتنان پدې اند دی چې په مطلق ډول به فتوی نه ورکوله کېږي بلکې د مستفتی یا پوښتنه کونکي حالت او ضرورت به په نظر کې نیول کېږي او د ضرورت مطابق فتوی به ورکوله کېږي دوئ وايي:

دا ډېر دضرورت ځای دی او په هرحال کې باید په غور ورته وکتل شي او هم يې په غور اندازه کړی شي. (منصور، محمد خالد، ۱۹۹۷: ۳۵۶)

مجمع فقهي د ضرورت له مخې مصنوعي پیوند ته جواز ورکړی، مګر ددې سره سره يې با غیرته مسلمانانو ته ددې توصیه کړې ده چې پخپل دین ټینګ ودرېږي او ددغسې کړنو څخه که څه هم چې جواز لري ځانونه وژغوري، صرف په ډېر سخت حالت کې ورڅخه کار واخلي، او ددې سره سره باید له زیات احتیاط څخه کار واخلي ترڅو پردئ او اجنبی نطفې سره ګډې نشي، یا له مختلفو لقاحونو (پیوندونو) څخه مصنوعي پیوند را منځ ته نشي، ځکه ددې احتمال خورا زیات دې چې بیلا بیلې نطفې سره ګډې اوخلطې شي.

البته ټول پدې متفق دي چې مصنوعي تلقیح بې شمیره خطرونه او حرمتونه لري چې هغه په لاندې ډول دي:

**خطرونه او نارواوې**

دغه خطرات او ناروواوې د مصنوعي تلقیح ټولو صورتونو ته شاملې دي مګر دا چې لومړي څلور واړه يې حرام دي او حرمت يې هم ذاتي دی نه د وسیلې له کبله په همدې بنیاد يې څرګندولو ته اړتیا نه لیدله کېږی مګر پنځم قسم يې وضاحت او تفصیل ته اړتیا لري ځکه پدغه قسم کې هم یو شمیر محاذیر موجود دی چې دغه محاذیر په لاندي ډول دی. (بار، محمد علي، ۲۰۰۷: ۳۵۶)

**۱- د نسب له کبله**

د دې احتمال ډېر زيات دی چې د يو شخص اوبه واخيستلی شي او بل چا ته منسوب کړی شي، نوکه چيرې په قصدي او يا خطا توګه د سړي مني او يا ښځې اوبه له بل سره بدلې شي نو د نسب ساتنه په بشپړه توګه ونړيده او د نسب ساتنه له ضروریاتو د شريعت څخه ده.

**۲ -دناموس له کبله**

دغه ماشوم چې پدې توګه پيدا شويدی دده په اړوند شکونه راولاړيږي، او ټولنه کې په هکله يې خبري په صراحت او يا کينايې سره زياتيږي، دا پداسې حال کې چې دناموس ساتنه له ضروریاتو د شريعت څخه ده.

البته دا څه معينه قضيه نده چې په يو ښارګوټي کې يو ځل واقع شي د دوام او زيادت احتمال نلري، بلکې ددې انتشار او د نسل نامعلومتيا لدغې لارې څخه په پريمانه کچه رامنځته کيږي چې پدې سره به په ټولنه کې داسې کسان زيات شي چې نسب به يې نه وي معلوم او دغه کړنه د الله پاک د دين او شريعت سره سمون نه خوري ځکه الله پاک د پنځو شيانو دين، نفس، عقل، نسب، (ناموس) او مال د ساتنې امر کړی او هغه له ضروریاتو ددين څخه شميرل کيږي.

الف: الله پاک ددې دپاره احکام مشروع کړي چې د نسب حفاظت وشي، او هم يې د نسب د ساتني په خاطر د زنا حد واجب ګرځولی تر څو هرې هغې وسيلې مخه ونيسي چې د نسب دنا معلومتيا لامل ګرځي.

د ناموس د ساتنې په خاطر يې د قذف حد مشروع کړی او ټولې هغه وسيلې يې حرامې ګرځولي چې دناموس دخرابي سبب ګرځي.

دغه واړه چارې پدې خاطر مشروع کړي چې د مسلمان د جوړښت او معنوياتو ساتنه وشي او هم يې له هر راز داسې مؤثراتو څخه پاک کړي چې دده عزت، شرف او کرامت ته زيان اړوي.

ددې فرمولې پر اساس پدغسې توګه د اولاد منځته راتلل له ناروا او محرماتو څخه خالي ندی آن چې د مشروعیت په اړوند یې ډېر شکونه پیدا کېږي.

ب: معاصر دردونکی حالت د مني بانکونو د جوړښت غوښتنه کړې ترڅو دمني د ساتنې لپاره مرکزونه جوړ کړی شي.

دغه تجارتي نوی بازار لدې کبله رامنځته شوی چې په نوی ترځ او طريقې سره انسان غلام او مريې کړي نودغه کړنه په واقعیت انسانی ارزښت له منځته وړل دي. (ابو زید: بکر، ۲۰۰۲م، ج۲: ۸۵)

ددغو بانکونو په جوړيدل په داسي وخت کې چې مونږ د مادیاتو په زمانه کې ژوند کوو نو دشهوت او لذت خوندونه ډېر هغه اشخاص چې اخلاق یې له لاسه ورکړي عقیم انسان پدې دهوکه کوي او ورته څرګندوي چې ستا اوبه ددې وړ دی چې اولاد ورڅخه پیدا شي، نو کله چې هغه دغه کار ته اماده کړي بيا د بل داسي انسان اوبه را اخلې چې هغه عقیم نه وي او دده د میرمني په رحم کې یې پيچکارې کوي.... دغه کارونه ډېر زيات واقع کېږي ځکه ددین دښمنان غواړي چې پدې توګه فساد خپور کړي، او کړنه دهغه فساد لړۍ ده چې په مصر کې د (صوفه) په شهرت لرل، هغه یوه داسې لار ده چې بنسټ یې په ګمراهي ولاړ دی، هغه ښځه چې د اولاد له نشتوالی څخه شکایت لري هغو اشخاصو ته مراجعه کوي چې ځانونه یې ددغو کړنو مسلکې معرفي کړي وي، ډاکټره یې پداسي وړۍ سره مرسته کوي چې په هغه کې د پردي سړي مني ځای پرځای شوي وي، او ورته توصیه کې چې دغه وړۍ په خپل فرج کې کیږدي، هغه داسي انګیرې چې دغه دواء ده وروسته ورته توصیه کوي چې میړه یې ورسره کوروالی وکوي نو د الله په امر به حمل واخلي، کله چې حمل واخیستل نو خاوند یې په نابېره توګه دي کړني ته ځیر کېږي، ځکه هغه ته معلومه وه چې هغه عقیم دی، دغه قضیه بیا محکمې ته وړاندې شوه او پيښه څرګنده شوه، کوم اولاد چې ورڅخه راغلی وو هغه د پردیو اوبو څخه و نو نسب یې ده ته نه ثابتیدو، دغه پيښه د يوې پټې پردې لاندې رامنځته شوه چې په ښکاره یې دعلاج دعوه کوله، پدې اساس لري نده چې داسې ورځ به راشي چې همدغې کړني به د طب په ډګر

کې واقع کېږي او دخلکو په غدو به لوبي کوي، آن چې اوس داسې چارې رواني دي چې په پيل کې په حيوان او نبات تطبيقوي او بيا وروسته يې په ډېرو برخو کې په انسان تطبيقوي چې ځينې نموني يې په لاندې ډول دي:

۱ -د جنين ځيرنه چې هغه نارينه ده که ښځه.

۲ -دخپل رغبت او شهوت پوره کول په الکتروني وسايلو سره.

۳ -د بدن دغدو تشياوي د جنين غدو ته اړول.

۴ -د داسې انسان چې غدي يې د حيواناتو دغدو سره ګډ شوي وي منځته راوړل. (مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ج ۲: ۶)

**موندنې**

د دې څېړنو د تېرو موادو څخه لاندې لاسته راوړنې لرو:

مصنوعي القاح د هغه عمليې څخه عبارت دی چې له طبيعي طريقې پرته د وسائلو په وسيله د نارينه سپرم د مېرمنې د هګۍ يا بويضې سره يو ځای کوي او بيا له هغې څخه د ماشوم پيدا کېږي.

مصنوعی القاح په ټوله کې په دوه بڼو صورت نيسي چې يوه خارجي او بله يې داخلي بڼه ده چې دواړه بڼې يې بېلابېل لاملونه او صورتونه لري. چې په لاندې برخه کې يې صورتونه او د هغې حکم په لنډ ډول روښانه شوی دی.

**لومړی**: د پردي سړي او پردۍ ښځې اوبه د داسې ښځې په رحم کې اچول چې هغه خاوند ولري، دا حمل د زنا او سفاح حمل دي چې په قطعې توګه حرام دی، ځکه دا د ذات حرمت دی نه د وسيلې.

**دويم**: د دواړو خاوند او ښځې اوبه د داسې ښځې په حکم کې اچول چې بيضه ولري او دا هم د خاوند له وفات څخه وروسته تر سره کېږي، د نکاح دعقد له منځه تللو څخه مصنوعي القاح تر سره کول که هغه په وفات سره وي يا طلاق سره وي، حرام قطعي دی؛ ځکه نکاح نوره شليدلي او نکاح عقد چې قطع شي بيا تلقيح په هيڅ صورت جواز نه لري

**دریم:** د د واړو خاوند او ښځې اوبه په پردۍ رحم کې اچول. دغه قسم تلقیح هم حرامه ده، ځکه رحم پردی دی؛ نو کله چې رحم پردی وي بیا تلقیح جواز نلري، بل دا چې ابوت او امومت په صحیح رحم پورې تړاو لري.

**څلورم:** د دواړو خاوند او ښځې اوبه دبلې بنې په رحم کې د داخلې یا خارجې تلقیح له لارې اچول. دغه تلقیح هم حرامه ده، ځکه اصلي مور نامعلومه ده، د دې سربېره شونې ده چې د هغې ښځې اوبه چې له هغې څخه اخیستل شوی وي، د هغې بلې له اوبو سره ګډې شي؛ نو بیا نه معلومیږي چې جنین د کومې یوې د اوبو څخه منځته راغلی دی.

**پنځمه فرعه:** د دواړو خاوند او ښځې اوبه د ښځې په رحم کې د داخلې یا خارجې تلقیح له لارې اچول، چې ددې تلقیح په اړوند علماوو پنځه ډوله نظرونه وړاندې کړي دي، خو په دې کې د پوره مطالعې او څېړنې څخه دې پایلې ته رسېدلي یو چې په شروطو باندې جواز ورکول ورته د ضرورت د حالت پر مهال جائز دی. او هغه دویم نظر دی چې شرائط یې په لاندې توګه دي:

**الف-** دعورت لوڅول به د ضرورت په اندازه وي.

**ب-** د امکان ترحده به یې چارې یا علاج مسلمانه ښځه تر سره کوي، که دا نه وي نو کافره ښځه به یې تر سره کوي، که هغه هم نه وی نو ثقه مسلمان ډاکټر به یې تر سره کوي، او که دا هم نه وی نو کافر ډاکټر بیا کولای شي چې تر سره یې کړي.

**ج-** د علاج پر مهال به خلوت صورت نه نیسي.

**د-** د القاح (پیوند) کړنه به دسړي په موجودیت او رضا سره تر سره کېږي.

**هـ-** د دواړو ــ سړي او ښځې ــ اضافه اوبه به تلف کوي، هغه به نه ساتي.

**و-** دنسب د نه ګډوالي له کبله به ټول احتیاطی تدابیر په نظر کې نیسي، او غوره به دا وي چې لقاح (پیوند) په مستقیمه توګه صورت ونیسي.

او دا نظر مجمع الفقهي هم تأیید کړی دی او په دې اړوند یې دا خبره په ډاګه کړې هم ده چې د ضرورت له مخې مصنوعي پیوند ته جواز ورکړې، مګر ددې سره سره یې با غیرته مسلمانانو ته ددې توصیه کړې ده چې پخپل دین ټینګ ودریږي او د دغسې کړنو

شخخه که څه هم چې جواز لري ځانونه وژغوري، صرف په ډېر سخت حالت کې ورڅخه کار واخلي، او د دې سره سره باید له زیات احتیاط شخخه کار واخلي ترڅو پردئ او اجنبی نطفې سره ګډې نشي،

د دې څېړنې له مخې یو ځل بیا هم یادونه کوو چې د پنځم صورت پرته د مصنوعي تلقیح څلور واړه صورتونه د حرام والی تر څنګ یو شمېر خطرونه هم لری چې، د نسب د ګډوډ والي سبب ګرځي، د ناموس او عفت په وړاندې ګواښ دی، د میراث د حقوقو او یو شمېر نورو حقوقو په اړوند ستونزې زېږوي چې حقیقي مور له دایي مور شخه بېلول ګرانېږي او متعذره کېږي نو ددې ټولو خطرونو په درلودلو سره دغه صورتونه حرام ګڼل شوي، دي.

**مناقشه**

دغه پایلې او نتیجې داسې چارې دي چې دروازه پرانستل یې د جنس انسانیت لپاره صحیح ندي او په خاصه توګه یې د مسلمان لپآره پرانستل جواز نلري.

نظر پدې فرمولې سره د ټولو هغو وسایلو مخه نیول واجب دي چې پدغسې توګه اولاد منځته راوړي او د اولاد دغه لارې کارول په مصیبتونو کې ځان ور داخلول دي.

**الف:** د اولاد دغه لار د غبرګونو زامنو د راوړلو لامل ګرځي، او دغه کار بیا مور د وحمل او ولادت پر مهال له خورا غټو ستونزو سره مخ کوي، ځکه ډاکټر چې د ښځې د له اوبو شخه څو بویضات اخلې نو شونې ده چې ددغو بویضاتوشمیر دولسو ته ورسیږي، اودغه بویضات بیا د معاینې په بوتل کې اچوي چې هغه ته د امتحان پیپ ویل کېږي ترڅو یې بیا وروسته ښځې ته القاح کړي، ځکه که ډاکټر یوه بویضه واخلې نو دکامیابې امکان ډېر لږی تردې چې کامیابې یې تر لس فیصده زیات تجاوز نه کوي نو دکامیابي په خاطر نورې ډېر پویضې ور داخلوي تر څو دالله په حکم هغه کامیاب شي نو ښځه سخت خطر لاندې شپې سبا کوي، او معلومه خبره ده چې انسان ته نده روا چې داسې تصرف وکړي چې بدن یې ضرر رسوي.

**ب-** ددې ستونزو برسيره بل غټ مشکل لري چې په لويديځ کې لويه غوغاء رامنځته کړيده هغه داسې ده:

ددغې کړنې د اجراء کيدو څخه وروسته د ډاکټر د معاينې په پيپ کې کلک او جامد بويضات پاتې کيږي، دا پدې خاطر چې کړنه ناکامه شوه او بايد دويم ځل يې بيا عملې کړي خو ددې سره سره د کاميابې په صورت کې پوښتنه دا راولاړيږي چې ددغو جامدو بويضاتو پای څنګه شو؟ واقعيت دی چې دغه بويضات بل چا ته انتقال مومي او ددې حرمت په قطعې توګه داسې ثابت دی لکه د اول قسم مصنوعي اولاد چې ثابت دی، ډير داسې واقع شوي چې ګڼ شمير ښځو ته د يوه سړي اوبه القاح شويدي لکه د يوه غوايې اوبو چې ډيرو غواګانو القاح کيږي، ځکه پدغه توګه دوئ خپلې تجربې سرته رسوي او دا په واقعيت کې د انسان په حرمت تيری دی، دغه راز کړنو خپله د کفارو په منځ کې زيات بحثونه را پارولي دي څوک ورته جواز ورکوي او څوک يې صحيح نه ګڼي!

د کاميابې په صورت کې دغه اوبه ضايع کيږي او دا کار د ډاکټرانو په عرف کې خورا ستونزمن دی، ځکه دا ګران کار دی لاسته راوړنه يې ډيره مشکله ده، او هم دغه کارپه روغتونونو کې د غټو ګټو د لاسته راوړلو لامل ګرځي.

**ج-** طب ثابته کړي چې د معاصرې مصنوعي لقاح د استعمال له کبله ګڼ شمير ستونزې رامنځته شوي، ځکه معاصر طب دا کشف کړي چې د شرعې طبيعې لارې څخه د اولاد منځته راتلل دومره قوت لري چې د ناروغو حيواناتو مقاومت وکړي او دغه قوت په مصنوعي لقاح کې وجود نلري.

**د-** معاصر ظالم او ناوړه واقعيت ثابته کړي چې په نړۍ کې ګڼ شمير شرکتونو د رحمونو د پلورنې او اجارې لپاره جوړ شويدي، دارنګه د منې د پلورنې او اجارې پخاطر بانکونه جوړ شويدي، ددې سربيره د منوي حيواناتو او بويضاتو د پلورنې په غرض هم شرکتونه جوړ شويدي.

دغو چارو په محکمې په وړاندې داسې قضايا را ولاړې کړيدې چې تصور يې هم نه کيده دبيلګې په توګه يوې ښځې د سپين سړي د اوبو رغبت لرل مګر تور زوی يې زيږولی

دی، او یا ددې عکس کار صورت موندلی دی، دارنګه دا هم راغلې چې ښځې اوبه القاح شوي چې هغه په جنسې ناروغۍ اخته و، پدې توګه لویدیځ طب غوارې په خپل لیونیو کړنو سره انساني اخلاق او انسانې کرامت په کامله توګه له منځه یوسي.

الله پاک چې په مخلوق کوم احسان کړی هغه یې د سالمې شرعې لارې د ولادت احسان کړیدی هغه ولادت چې له هر راز شکونو څخه خوندې وي.

**هـ-** پدغسې مصنوعي القاح کې د بربنډیدو ناوړه صورتونه صورت نیسي، چې د سړي د معاینې پر مهال دهغه یو یا دواړه فرجونه چې دښځې سره هیڅ راز رابطه نلري ښکاره کوي، نو د اولاد نه راوړل یا عقیم داسې ضرورت ندی چې له کبله یې دغسې ناروا وي او بربنېدل صورت ونیسي.

**ز-** د معاینې په پیپ کې د خطا واقع کیدل ځکه شونې ده چې د بل چا اوبه پکې کېښودلی شي.

**خ-** د مصنوعي القاح څخه ګڼ شمیر ټولنیزې او قانونې ستونزې راولاړیږي، ځکه دواړه ډوله مصنوعي القاح که هغه خارجې وي یا داخلې د دغو ستونزو لامل ګرځي، دبیلګې په توګه اوسمهال په نړۍ کې دوه نیم لکه ماشومان دي چې د دوی پلار ندی معلوم، او دغه ماشومان د همدې بانکې منیو A.I.S په پایله کې منځته راغلي دي دا راز د اعاره کړی شویو میندو (Surrogat mother) مور به څوک وي؟ هغه ښځه چې حمل یې اخستی او زوی یې زیږولی او که هغه چې اوبه یې ورکړی؟ پلار به څوک وي؟ ایا دمنیو خاوند به پلار وي او که د ښځې خاوند؟

د دې اصولو پر بنیاد هغه چا چې د دغسې وسیلې د منعې او حرمت خبره کړیده او پدې هلکه یې بیشمیره دلایل وړاندې کړیدي دغه نظر غوره او قوي دی، ځکه د مسلمان غوره لباس په دنیا او اخرت کې د خپل عزت تقوی او کرامت ساتل دی، د انسان ښه ژوند پدې کې دی چې دانسانې کرامت بنیاد او اساسات وساتي، ترڅو

پداسې فضاء کې ژوند وکړي چې هغه ارامه پاکه او دخپل دین او نفس ساتنه یې پکې ترسره شي، لکه څرنګه چې یو سړی دخپلې شتمنۍ ساته کوي او نه غواړي چې له پاک مال سره یې سود او بل ناروا شی ګډ شي دغه رنګه پرې لازمه ده چې دخپل ناموس ساتنه هم دغسې وکړي او له هغه سره هیڅ شی باید خلط نه شي( مجلة الفقه الاسلامي، ۲۰۰۳م ،ج ۲: ۱)

**پایلې**

د دې څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې مصنوعي القاح هغه لاسي القاح ده چې په طبيعي توګه د مېرمنې په رحم کې القاح صورت نه شي موندلی؛ نو د وسائلو څخه په ګټه اخيستنه د نارينه اوبه د ښځې د تخمې يا هګۍ سره يو ځای کېږي او په تيوب کې القاح صورت نيسي چې له دغې لارې چې کوم ماشوم پيدا کېږي هغې ته په عربي ژبه کې اطفال الأنابيب يا د تيوب ماشوم ويل کېږي، مصنوعي القاح په ټوله کې د هغه ضرورت او اړتيا له کبله رامنځ ته کېږي چې خلک يې ورته د کورنۍ د جوړښت لپاره لري.

مصنوعي القاح ټولې هغه لارې چې په هغې کې د نسب د اختلاط لاملونه رامنځ ته کېږي ناروا دي او هغه چې په هغې کې د نسب د اختلاط ستونزه نه وي، د ناموس د خطر سره نه مخ کېږي او شرعي احکام په کې نه ماتېږي، چې په ذکر شوو صورتونو کې پنځم صورت دی چې هغه د خاوند او د هغې د مېرمنې د اوبو د يو ځای کولو په نتيجه کې تر سره کېږي، نو د القاح له دغه لارې څخه په هغه شروطو ګټه اخيستل جائز دي چې فقهاوو ورته اېښودلي دي او مخکې په موندنو کې په تفصيلي توګه دغه شرطونه بيان شو.

## مأخذونه


- قرآن کريم.
- ابو زيد، بکر، (۲۰۰۲م)، فقه النوازل، دريم چاپ رياض: رابطه العالم الاسلامي.
- احمد، شرف الدين بن احمد، (۲۰۰۴م)، اسلامي طب، دويم چاپ، بيروت: دار صادر.
- بار، علي محمد، (۲۰۰۳م )، کتاب الانجاب, څلورم چاپ، بيروتک دار الکتب
- بار، محمد علي، (۲۰۰۷م)، اخلاقيات تلقيح الاصطناعي، دويم چاپ، بيروت، لبنان: دار الفکر.
- بسام، عبد الله، طرق، (۲۰۰۸م)، الانجاب، پنځم چاپ، بيروت لبنان: دار الفکر.
- بهوتي، منصور بن يونس بن ادريس، ( ۲۰۰۴م)، شرح منتهى الارادات، المملکة العربية السعودية،.رئاسة إدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد.
- ذياب، صبحي، ( ۱۹۸۹م)، أحکام عقم الانسان فى الشريعة الاسلامية، دويم چاپ، بيروت: دار صادر.
- زبيدي، محمد مرتضى حسيني، (بىتا)، تاج العروس دار الهداية للطباعة والنشر والتوزيع.
- زرقاء، مصطفى، (۱۹۹۹م)، التلقيح الصناعي، شپږم چاپ، بيروت: دار العربيه.
- سباعي، زهير، (۱۹۹۸م)، الطب ادبه وفقهه، لومړى چاپ، بيروت: دار الفکر.

- شربيني، خطيب، (بی‌تا)، شرح المنهاج مغني المحتاج إلى ألفاظ المنهاج، بيروت لبنان: دار الكتب.
- شلتوت، محمد شلتوت، (۱۹۹۰م)، فتاوى معاصره، دويم چاپ، مصر.
- شيخ، بن محمد، ( ۲۰۰۰م)، اقناعي حكم، دريم چاپ، بيروت: دار الفكر.
- طريفي، عبد الله بن عبد المحسن، ( ۲۰۰۳ م)، تحديد النسل، دريم چاپ، بيروت: دار الفكر.
- عيني، بدر الدين أبي محمد، (۱۴۱۴هـ) . عمدة القاري شرح صحيح البخاري، بيروت: دار الفكر.
- مجلة مجمع الفقه الاسلامي ( ۲۰۰۳م ) دويمه رابطة العالم الاسلامي.